اې خلکو! دا کار مې ځکه وکړ چې ماپسې اقتدا وکړئ، او زما لمونځ زده کړئ

له ابو حازم بن دينار څخه روايت دی: چې يو څو سړي سهل بن سعد الساعدي ته راغلل، پداسې حال کې چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د منبر په اړه يې سره په خپلو کې اختلاف کړی و چې له څه شي څخه جوړ و، نو د منبر په اړه يې ورڅخه پوښتنه وکړه، هغه وويل: قسم په الله زه پوهيږم چې هغه څه دی او له شک پرته مې په لومړ ورځ ليدلی چې کېښودل شوی و او لومړ ورځ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې کېناست، رسول الله صلى الله عليه وسلم له انصارو څخه فلان ښځې ته -چې سهل يې نوم ياد کړ- خبر ورولیږه چې: «خپل ترکان غلام ته دې امر وکړه چې زما لپاره لرګي جوړ کړي تر څو پرې خلکو ته د خبرو کولو پر مهال کښېنم» نو هغې ورته امر وکړ، نو د ځنګل د غز له ونې څخه يې جوړ کړ، بيا يې راوړ او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې يو څوک ورولیږه، هغه امر وکړ چې هغلته کېښودل شي، بيا مې رسول الله صلى الله عليه وسلم وليد چې لمونځ يې پرې وکړ، تکبير يې ووايه او پرې د پاسه و، بيا يې رکوع وکړه او هغه پرې د پاسه و، بيا شاته کوز شو، نو د منبر په ښځ کې يې سجده وکړه بيا بيرته وروګرځېد، نو کله چې فارغ شو خلکو ته يې مخ کړ او ويې ويل: « اې خلکو! دا کار مې ځکه وکړ چې ماپسې اقتدا وکړئ، او زما لمونځ زده کړئ».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

يو صحابي ته يو سړی راغی او د هغه منبر په اړه يې ترې پوښتنه وکړه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم کارواه؛ چې له څه شي څخه جوړ شوی و؟ دوی په دې اړه بحث او اختلاف کړی و، نو دا خبره يې ورته يادە کړه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د انصارو يوې ښځې ته چې ترکان غلام يې درلوده يو څوک ورولیږه او ورته يې وويل: چې: غلام ته دې امر وکړه چې يو منبر راته جوړ کړي تر څو پرې خلکو ته د خبرو پر مهال کېنم، نو مبرمني د رسول الله صلى الله عليه وسلم خبرې ته لبيک ووايه او خپل غلام ته يې امر وکړ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د ځنګله د غز له ونې څخه منبر جوړ کړي، نو کله يې چې له جوړولو څخه فارغ شو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې وليږه، هغه امر وکړ چې په جومات کې د منبر پر ځای کې کېښودل شي، نو بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې لمونځ وکړ، تکبير يې ووايه او رکوع يې پرې وکړه پداسې حال کې چې د منبر د پاسه و، بيا راکوز شو او لږ غوندې شاته يې قدم واخيست پرته لدې چې شاته مخ واړوي، نو د منبر په ښځ کې يې سجده وکړه بيا ښرته وخوت، نو کله چې له لمانځه څخه فارغ شو خلکو ته يې مخ کړ ، او ويې ويل: اې خلکو! دا کار مې ځکه وکړ چې اقتدا راپسې وکړئ او د دې لپاره چې زما لمونځ زده کړئ.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65096